هفته واره رساله

# د بې حسابه مغفرت والا اعمال (قسط: 1)



- د هرو زرو سره 70 زره جنتيان
- د نابينا خلقو د پاره زيرے
- کامياب تاجر
- طالب علم او فرمانبرداره بي بي

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ ط
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# د بې حسابه مغفرت والا اَعمال (قسط: 1)

**دُعائے عطّار:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د بې حسابه مغفرت والا اعمال (قسط: 1) " ولولي یا واوري هغهٔ ته د داسې اعمالو کولو توفیق ورعطا کړې چې هغه پهٔ ایمان باندې وفات شي او د هغهٔ سره د مور او پلاره مغفرت اوکړے شي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې پهٔ ورځ او شپه کښې پهٔ ما باندې د شوق او محبت پهٔ وجه درې درې کرته دُرُودِ پاک ولوستو، پهٔ الله پاک باندې حق دے چې د هغهٔ د هغې ورځې او د هغې شپې ګناهونه اوبخښي-
(معجم کبیر، 362/18، حدیث:928)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## عُکَّاشه نمبر یوړو

صحابئ رسول حضرت سیّدُنا عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا بیان کوي چې یوه ورځ رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږ خوا له تشریف راوړلو او ارشاد یې وفرمائیلو: پهٔ ما باندې مختلف اُمتونه پیش کړے شول، نو څهٔ نبیان داسې تیر شو چې د هغوئې سره صرف یو کس وو، د ځینو نبیانو سره دوه کسان، د ځینو نبیانو سره یوه ډله وه او د ځینو نبیانو سره یو کس هم نهٔ وو، بیا ما یوه ډیره لویه مجمع ولیدله کومې چې د زمکې غاړې ډکې کړې وې، زما اُمید شو چې دا زما اُمت دے- ما ته

ووئیلے شو چې دا حضرت موسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام او د هغوئي قوم دے، بیا ما ته ووئیلے شو: وګورئ! نو ما یوه ډیره لویه مجمع ولیدله کومې چې د زمکې غاړې ډکې کړې وې- ما ته بیا ووئیلے شو: (دې طرف ته) وګورئ (هغه طرف ته) وګورئ، ما چې (اخوا دیخوا) وکتل نو ډیره زیاته لویه مجمع وه کومې چې د زمکې غاړې ډکې کړې وې، بیا ما ته ووئیلے شو چې دا ستاسو اُمت دے او " د دوئي سره 70 زره نور هم دي کوم چې به بغیر د حساب کتاب نه جَنَّت ته داخلیږي"- په دې اوریدو (صحابئ رسول) حضرت عُکَّاشه بن مِحصَن رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ عرض اوکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! آیا زهٔ هم په هغه خلقو (بغیر د حساب کتاب نه جَنَّت ته په داخلیدونکو) کښې یم نو د الله پاک په عطا سره د غیبو خبر اِرشاد فرمائیلو والا خوږ اخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائیلو: آؤ! بیا یو بَل ګس عرض اوکړو: آیا زهٔ هم په هغه خلقو کښې یم؟ اِرشاد یې وفرمائیلو: عُکَّاشه ستا نه نمبر یوړو- (بخاری، 4/35، حدیث:5752)

بِلا حساب ہو جنَّت میں داخِلہ یارب پڑوس خُلد میں سرور کا ہو عطا یارب

(وسائلِ بخشش، ص82)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## نسل په نسل بې حسابه په جَنَّت کښې

د حضرت سَهل بِن سَعد رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ بیان دے چې ما د نبي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوریدلي دي: بے شکه زما د صحابؤ په نسلونو کښې به داسې نارینه او زنانه وي کوم چې به بې حسابه کتابه جَنَّت ته داخلیږي، بیا رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا آیت مبارک تِلاوت کړو: ﴿وَّ اٰخَرِیۡنَ مِنۡهُمۡ لَمَّا یَلۡحَقُوۡا بِهِمۡ ؕ﴾ (پ28، الجمعة:3)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او د هغوئي نه (پس راتلونکي) نور خلق (هُم دا رسول پاکوي) کوم چې دې (موجوده خلقو) سره لا نۀ دي يو ځائے شوي- (معجم کبير، 201/6، حديث:6005)

هر صحابِيِ نبي! جَنَّتي جَنَّتي | تولې صحابِياتې هُم! جَنَّتي جَنَّتي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علىٰ مُحَمَّد

## تۀ يې او بخښه بې حسابه

د حضرت ابو اُمامه رَضِیَ اللهُ عَنْہُ بيان دے چې ما د الله پاک د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: زما رَبِّ کريم زما سره وعده فرمائيلې ده چې هغه به زما پۀ اُمت کښې 70 زره کسان بې حسابه او بې عذابه جَنَّت ته داخلوي، پۀ هغوئي کښې به د هرو زرو سره 70 زره نور وي او زما د رَبِّ کريم د لَپو نه به (لکه څنګه چې د هغه د شان لائق دي) درې لپې (نور وي)- (ترمذی، 198/4، حديث:2445)

د حديث شرح: وړومبي 70 زره خو هٰغه وو کوم چې د خپل نيک اعمال پۀ وجه بې حسابه جَنَّتيان شول او دويم 70 زره هٰغه دي کوم چې د هٰغه وړومبو پۀ برکت د هغوئي د خدمت، د هغوئي د قرب پۀ وجه بې حسابه جَنَّت ته داخل شول- پۀ ګلدسته کښې د ګلونو سره ګيا کيښودے شي نو هغه هم عزت مومي يعنې پۀ هغوئي کښې به د هر يو سره بې شميره خلق وي کوم چې به د هغوئي پۀ برکت بخښلے کيږي- د لَپې نه مُراد دے بې اندازې څکه چې کله چا ته بغير د حساب بغير د تول کولو ناپ کولو نه ورکولے شي نو هلته ډکې ډکې لَپې ورکولے کيږي يا ووايئ چې دا حديث پۀ مُتَشَابهاتو کښې دے ګڼې نو الله پاک د موټې او لپې نه پاک دے- (مرأة المناجيح، 392/7، 393)

مجھے بخش دے بے سبب یا الٰہی | نہ کرنا کبھی بھی غضب یا الٰہی

(وسائلِ بخشش، ص111)

## د هرو زرو سره 70 زره جَنَّتيان

نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: بے شكه زما رَبِّ كريم زما نه زما د اُمت په باره كښې رائے وغوښتله چې زۀ د هغوئي سره څۀ اوكړم؟ ما عرض اوكړو: اے زما ربه! تۀ چې څۀ غواړې ځكه چې هغه ستا مخلوق او ستا بندګان دي- الله پاک اِرشاد وفرمائيلو: "اے محمده! مونږ به تا ستا د اُمت په معامله كښې نۀ غمژن كوو-" او الله كريم ما له زيرے راكړو چې د ټولو نه وړومبے به زما د اُمت نه 70 كسان زره جَنَّت ته داخليږي او په هغوئي كښې به د هرو زرو كسانو سره 70 زره نور هم وي، په ھُغه ټولو باندې به هيڅ حساب كتاب نۀ وي-

(مسند احمد، 9/94، حديث:23396)

په يو بَل روايت كښې دي: بے شكه زۀ اُميد لرم چې ھُغه خلق به تر ھُغه وخته پورې جَنَّت ته داخِليدے نشي تر څو پورې چې تۀ او ستا نيكان اولاد او ښځې په جَنَّت كښې خپل كور جوړ نۀ كړي- (مسند احمد، 5/479، حديث:16215 ملتقطًا)

## 4 اربه 90 كروړه

د الله پاک اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زما د اُمت نه به 70 زره بې حسابه جَنَّت ته داخل شي او د هغوئي په بركت به د هر يو سره 70 زره نور او رَب به د هغوئي سره درې ډلې نورې كړي، معلومه نۀ ده چې په هره ډله كښې به څومره وي، د دې شميره هغه ته معلومه ده-

(مسند امام احمد، 1/419، حديث: 1706ـ ترمذی، 4/198، حديث:2445)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د الله پاک د رحمت او د هغۀ د فضل او كرم نه قربان شم چې هغۀ د خپل خوږ اخري نبي، مكي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله په مونږ د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ غلامانو باندې ځومره کرم کړے دے- اے کاش چې مونږ هم پۀ هٰغه خوش قِسمته بې حسابه بې کتابه جَنَّت ته پۀ داخليدونکو کښې شو ځکه چې زمونږ سره خو د نيکئ د "ن" نقطه هم نشته، که الله پاک کرم اوکړي نو زمونږ د ګنهګارانو ذريعه به جوړه شي- مونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ اُمت کښې پۀ پيدا کيدو شُکر ادا کوو چې څوک د الله پاک د نعمتونو شُکر ادا کوي الله پاک هغۀ ته خپل نعمتونه نور هم عطا کوي-

شکر ادا ہو کیونکر تیرا پیارے نبی کی اُمّت میں　　مجھ سے نکمے کو بھی پیدا تُو نے اے رحمٰن کیا

(وسائلِ بخشش، ص196)

## ښه ګمان ښه ميوه

پۀ الله پاک مونږ ښۀ ګمان لرو چې هغه به مونږ صرف پۀ خپل فضل او کرم ضرور بې حسابه بې کتابه بخښي- ځکه چې پۀ حديثِ قُدسي کښې الله پاک پخپله اِرشاد فرمائي: " اَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِیْ بِیْ " ترجمه: زۀ د خپل بنده د ګمان (مطابق د هغۀ سره معامله ) کوم- (بخاری، 574/4، حدیث: 7505) يعنې د الله پاک پۀ باره کښې چې څوک څنګه ګمان لري نو الله پاک به د هغۀ سره هم هٰغه شان معامله فرمائي- مونږ د هغۀ د پاک ذات نه اُميد لرو چې هغه به د خپل محبوبِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله ضرور مونږه پۀ خپل رحمت جَنَّت الفردوس ته بې حسابه بې کتابه داخل کړي-

نہ کرنا حَشر میں پُرسِش مِری ہو بے سبب بخشش　　عطا کر باغِ فردوس از پئے شاہِ اُمَم مولیٰ

(وسائلِ بخشش، ص97)

اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د خپل آقا او مولیٰ مُحَمَّد رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم سره ځومره اُميد تړلے دے، هغوئي ليکلي دي:

ہے یہ امّید رضاؔ کو تِری رحمت سے شَہا نہ ہو زِندانیِ دوزخ تِرا بندہ ہو کر

(حدائقِ بخشش، ص70)

شرحِ کلامِ رضا! یا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زۀ ستاسو د دَر غلام يم او څوک چې ستاسو غلام وي هغه به څنګه دوزخ ته ځي ځکه چې د الله پاک پۀ بارګاه کښې ستاسو لوئې مقام او مرتبه او شان او شوکت دے نو زما پۀ دې اِعزاز او اِکرام کښې دا اُمید دے چې زۀ به دوزخ ته نۀ ځم بلکې ستاسو پۀ شفاعت به مې جَنَّت ځائے وي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## بې حسابه جَنَّت ته د داخلوونکو اعمالو بيان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس د يو څو هُغه نيک اعمالو ذِکر کيږي د کومو د کوونکو پۀ باره کښې چې پۀ حديثونو مبارکو کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خُله مبارکه د بې حسابه او بې کتابه جَنَّت ته د داخليدو زيري اورولے شوي دي- الله پاک دې پۀ اِخلاص او اِستقامت سره مونږ ته د خپلې رضا مطابق د نيک کار کولو توفيق راعطا کړي او بې حسابه بې کتابه مو دې جَنَّت الفردوس ته داخِليدل نصيب کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## ﴿1﴾ د اوليائے کرامو (رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم) شان

د الله پاک د رحمت والا نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: کله چې الله پاک مخکښيني وروستني خلق پۀ يو کولاؤ ميدان کښې راجمع کړي نو يو مُنادي (يعني اِعلان کوونکے) به د عرش د لاندې نه اواز کوي: د الله کريم مَعرِفَت (يعنې پيژندګلو) لرلو والا چرته دي؟ ښيګړه کوونکي چرته دي؟ د خلقو

نه به يوه ډله راپاځي او د رَبِّ کريم په حُضُور کښې به ودرېږي، الله پاک به فرمائي حالانکې هغه ښهٔ خبر دے: تاسو څوک يئ؟ هغوئي به عرض کوي: مونږ ستا مَعرِفت لرونکي يو، کومو ته چې تا خپل مَعرِفت عطا کړے او د دې جوګه مو جوړکړې يو- الله کريم به اِرشاد فرمائي: تاسو رښتيا ووئيل- بيا به فرمائي: ستاسو نه هيڅ تپوس پوښتنه نشته، زما پهٔ رحمت سره جَنَّت ته داخِل شئ- د مدينے منورې سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: رَبِّ کريم به هغوئي د قيامت د ورځې د وحشتونو نه محفوظ ساتي- ( التذکرة للقرطبی، ص 360) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

مجھے اولیا کی مَحبَّت عطا کر　　تُو دیوانہ کر غوث کا یا الٰہی

(وسائلِ بخشش، ص106)

## ﴿3، 2﴾ شهيدان او معاف کوونکي

د دوارو جهانو د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کله چې بندګان د حساب د پاره ودرولے شي نو ځينې خلق به پهٔ خپلو غاړو تورې اېښودي راځي د کومو نه چې به وينې څاڅي، دې خلقو به د جَنَّت پهٔ دروازه باندې ګڼه جوړه کړې وي - پوښتنه به اوکړے شي: دا کوم خلق دي؟ وه به وئيلے شي چې دا شهيدان دي کوم چې ژوندي وو، دوئي له رزق ورکړے کيدو- بيا به يو مُنادي (يعنې اِعلان کولو والا) اواز اوکړي: د چا اَجر چې د الله پاک پهٔ ذمَّهٔ کرم باندې دے هغوئي دې ودرېږي او جَنَّت ته دې داخِل شي- وه به وئيلے شي: څوک دي د چا اَجر چې د الله کريم پهٔ ذِمَّهٔ کرم باندې دے؟ اواز کوونکے به ووائي: خلق معاف کوونکي- مُنادي به بيا اواز اوکړي: د چا اَجر چې د رَبِّ کريم پهٔ ذِمَّهٔ کرم

باندې دے هغوئي دې ودريږي او جَنَّت ته دې داخِل شي- څوک به پوښتنه اوکړي: څوک دي د چا اَجر چې د الله کريم په ذِمَّهٔ کرم باندې دے؟ اواز کوونکے به ووائي: خلق معاف کوونکي- بيا به په دريم ځل اواز اوکړي: د چا اَجر چې د رَبِّ کريم په ذِمَّهٔ کرم باندې دے هغوئي دې ودريږي او جَنَّت ته دې داخِل شي- نو په زرګونو خلق به ودريږي او بې حسابه بې کتابه به جَنَّت ته داخل شي-

(معجم اوسط، 542/1، حديث: 1998)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د بعضې خلقو طبيعت د ماچس د تِلي په شان وي چې لږ يې ومږې نو لـمبه شي- د غصې په وخت اِنسان په جذباتو کښې راشي او د صحيح او غلط تميز (يعنې فرق) هير کړي- د غصې په حالت کښې د يو سکون د ځائے مثلاً د مکے مدينے، خانه کعبې يا د شين ښکلي ګنبد شريف تصور راولئ، دا تصور چې به څومره زياتيږي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! ستاسو غصه به هُغه همره کميږي، که تاسو څوک هر څومره تنګ کړي، خفا مو کړي، د معاف کولو نه کار واخلئ او د هغهٔ سره د محبت نه ډک سلوک کولو کوشش اوکړئ- کاش چې په مونږ کښې دا جذبه پيدا شي چې مونږ د خپل ذات او د خپل نفس په خاطِر هډو غصه کول پريږدو او الله پاک مونږه په خپل رحمت بې حسابه جَنَّت ته په داخليدونکو کښې شامل کړي-

تُو بے حساب بخش کہ ہیں بے شمار جُرم  دیتا ہوں واسِطہ تجھے شاہِ حِجاز کا

(ذوقِ نعت، ص18)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿د 4 نه 6 پورې﴾ د اللّٰه پاک پهٔ هر حال کښې د شُکر ادا کوونکو، تهجد ګزارو او د نیکانو تاجرانو د پاره زیرے

د خپل اُمت سره محبت کوونکي خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: اللّٰه پاک به د قیامت پهٔ ورځ خلق پهٔ داسې کولاؤ او هوار میدان کښې راجمع کړي چرته چې به د اواز کوونکي اواز ټول اوري او د کتونکي نظر به هر چا ته رسي، بیا به یو مُنادي ودریږي او اواز به اوکړي: چرته دي هٰغه خلق کومو چې به د خوشحالۍ او تنګۍ پهٔ وخت کښې د اللّٰه پاک حمد (یعني تعریف) کولو؟ لږ شان خلق به ودریږي او بې حسابه بې کتابه به جَنَّت ته داخل شي- مُنادي به بیا اواز اوکړي: هٰغه خلق چرته دي د کومو ډډې چې به د بسترو نه جُدا اوسیدلې؟ بیا به لږ شان خلق ودریږي او هغوئي به هم بې حسابه جَنَّت ته داخل شي- اواز کوونکے به بیا اواز اوکړي: چرته دي هٰغه خلق کوم چې به څهٔ تجارت او اخستو خرڅولو د اللّٰه کریم د یاد نه نهٔ غافله کول؟ بیا به لږ شان خلق ودریږي او هغوئي به بې حسابه بې کتابه جَنَّت ته داخل شي- بیا به باقي پاتې ټول مخلوق ولاړ وي او د هغوئي سره به حساب کتاب کیږي- (کتاب الزهد لهناد، ص134، حدیث:176) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

شکرِ خالق کس طرح سے ہو ادا　　　اِک زباں اور نعمتیں بے اِنتہا

(ذوقِ نعت، ص312)

## کامیاب تاجر (Business Man)

کوم تاجران [کاروبار کوونکي] چې د کار په وخت د نـمونځ په وخت راتلو باندې کار روزګار پرېږدي او د نـمونځ د پاره لاړ شي او د الله پاک په لار کښې زکوٰة ورکوي د هغوئي په باره کښې په قرآنِ کریم کښې اِرشاد دے:

﴿رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّ لَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ اِقَامِ الصَّلٰوةِ وَ اِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ﴾

(پ18، سورۂ النور:37)

**ترجمہ کنزُالعِرفان:** هغه سړي کومو لره چې تجارت او اخستل او خرڅول د الله د ذِکر او نـمونځ قائمولو او زکوٰة ورکولو نه نۀ غافله کوي-

حضرت عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُما په بازار کښې وو، په جومات کښې د نـمونځ د پاره اِقامت اوکړے شو نو حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُما ولیدل چې د بازار والا پاڅیدل او دکانونه یې بند کړل او جومات ته داخِل شو- په دې لیدلو حضرت عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُما وفرمائیل چې آیت "رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ" هم د داسې خلقو په حق کښې دے- (تفسیر ابن ابی حاتم، پ18، النور، تحت الآیۃ: 37، 8/2607)

سُبْحٰنَ الله! د دې مقدسو هستیانو په نزد د نـمونځ اهمیت عملي طور د تجارت، کاروبار او دکانداری نه زیات وو ځکه به دوئي د اِقامت په اواز اوریدو هر څۀ بندول او د نـمونځ د پاره به حاضریدل او د اوسنو مسلمانانو حال تولو ته معلوم دے چې د دُکان سره د جومات باوجود د جَمعې سره د نـمونځ ادا کولو د پاره د حاضریدو په ځائے په دکانداری کښې مصروف وي او په دې وجه هم د نـمونځ د پاره نۀ حاضریږي چې د دکان بندیدو په شکل کښې که څوک ګاهک واپس لاړو نو نقصان به وشي- الله پاک دې هغوئي د نـمونځ په اهمیت د پوهه کولو او دا په وخت د جَمعې سره د ادا کولو توفیق ورعطا کړي-

حضرت اِمام محمد بن احمد ذَهَبي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلي دي: بعضې علمائے کرام رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم فرمائي: که د کاروبار د مصروفيت پۀ وجه نـمونځ پريږدي نو هُغه بے نـمانځه تاجر به د مکے مکرمې د ډير لوئي کافِر تاجر اُبَي بن خَلَف سره د قيامت پۀ ورځ راپاڅولے شي- (کتابُ الکبائِر، ص21)

عمر ميں چُھوٹی ہے گر کوئی نماز جلد ادا کرلے تُو آ غفلت سے باز

(وسائلِ بخشش، ص713)

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

## ﴿د 7 نه 9 پورې﴾ د معاف کوونکو او صبر کوونکو اِنعام

مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: کله چې رَبِّ کريم مخلوق د قيامت پۀ ورځ باندې راجمع کوي نو يو مُنادي به اواز کوي: فضل والا چرته دي؟ ځينې خلق به راپاڅي او هغوئي به ډير لږ شان وي، هغوئي به پۀ تيزۍ سره د جَنَّت طرف ته روان شي، فرښتے به د هغوئي پۀ هر کلي کولو وائي: مونږ تاسو د جَنَّت طرف ته پۀ تيزۍ سره تلونکي وينو، تاسو څوک يئ؟ هغوئي به وائي: مونږ د فضل والا يو- فرښتے به پوښتنه کوي: ستاسو فضل څۀ وو؟ نو هغوئي به وائي: کله چې به پۀ مونږ باندې ظلم کيدو نو مونږ به صبر کولو او کله چې به زمونږ سره چا بد سلوک کولو نو مونږ به د معافۍ نه کار اخستو او کله چې به زمونږ سره د جهالت سلوک کيدو نو مونږ به د برداشت نه کار اخستو- هغوئي ته به وئيلے شي: جَنَّت ته داخِل شئ! د عمل کوونکو څومره ښکلې بدله ده- بيا به يو مُنادي اواز کوي: صبر کوونکي چرته دي؟ ځينې خلق به راپاڅي کوم چې به ډير لږ وي، هغوئي به پۀ تيزۍ سره د جَنَّت طرف ته روان شي، فرښتے به د هغوئي پۀ هر کلي کولو ووائي: مونږ پۀ تيزۍ سره تاسو د جَنَّت طرف ته تلونکي وينو، تاسو څوک يئ؟

هغوئي به وائي: مونږ د صبر والا يو- فرښتے به پوښتنه کوي: ستاسو صبر څهٔ وو؟ هغوئي به وائي: مونږ به د اللّٰه پاک پهٔ اِطاعت باندې او د هغه پهٔ نافرمانو باندې صبر کولو (يعنې پهٔ اِطاعت باندې به قائِم پاتې کيدو او د نافرمانو نه به بچ کيدلو)- هغوئي ته به ووئيلے شي: جَنَّت ته داخِل شئ! د عمل کوونکو څومره ښه صِله ده-

## د اللّٰه پاک د پاره محبت کوونکي

بيا به يو مُنادي اواز کوي: د اللّٰه کريم د پاره د يو بل سره محبت کوونکي چرته دي؟ بيا به لږ شان خلق ودريږي، هغوئي به پهٔ تيزئ سره د جَنَّت طرف ته روان شي، فرښتے به د هغوئي پهٔ هر کلي کولو ووائي: مونږ پهٔ تيزئ سره تاسو د جَنَّت طرف ته تلونکي وينو، تاسو څوک يئ؟ هغوئي به وائي: مونږ به د رَبِّ کريم د پاره د يو بل سره محبت کولو- فرښتے به پوښتنه کوي: ستاسو د يو بل سره محبت څنګه وو؟ هغوئي به وائي: مونږ به د اللّٰه پاک د پاره د يو بل سره محبت کولو، د هغهٔ د پاره به مو ملاقات کولو، د هغهٔ د پاره به مو د يو بل سره د نرمئ سلوک کولو او د هغهٔ د پاره به مو پهٔ يو بل خرچ کول- فرښتے به هغوئي ته وائي: جَنَّت ته داخل شئ! د عمل کوونکو څومره ښه بدله ده- رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: اللّٰه کريم به د هغوئي جَنَّت ته د داخليدو نه پس د حساب کتاب د پاره ميزان ولګوي-

(المطالب العالية، 617/18، حديث:4588)

بے سبب بخش دے نہ پوچھ عمل　　　نام غفّار ہے ترا یا رب

(ذوقِ نعت، ص84)

## د جَنَّت زيرے يې ورکړو (واقعه)

حضرت ابو هريره رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ بيان کوي چې يوې بيمارې زنانه (پهٔ کومې چې د ليونتوب حالت وو) پهٔ بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: يا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما پهٔ

حق کښې دُعا اوکړئ- اِرشاد یې وفرمائیلو: که تۀ غواړې نو زۀ به ستا د پاره د رَبِّ کریم پۀ حُضُور کښې دُعا اوکړم چې هغه تا له شِفا درکړي او که تۀ غواړې نو صبر اوکړه او ستا سره به حساب نۀ کیږي- پۀ دې اوریدو هغې عرض اوکړو: زۀ به صبر کووم، زما سره دې هیڅ حساب کتاب نۀ کیږي-

(الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان، 248/4، حدیث:2698)

## ﴿10﴾ د نابیناؤ د پاره زیرے

د الله پاک پۀ عطا سره د غیبو خبرې کوونکي خوږ او اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: پۀ دِین د پوهیدو نه پس د ټولو نه لوئې ازمیښت پۀ کوم کښې چې بنده اخته کړے شي هغه د بینایۍ تلل دي پس چا چې صبر اوکړو تر دې چې پۀ دې حالت کښې یې د الله پاک سره د ملاقات شرف حاصل کړو نو پۀ هغۀ باندې به هیڅ حِساب نۀ وي-

(مُسندِ بَزّار، 244/10، حدیث:4342)

حضرت عَلّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ بعضې روایتونو کښې د یوې سترګې د بینایۍ پۀ ختمیدو هم دا فضیلت راغلے دے- د سترګو پۀ خاص توګه دې د پاره ذِکر شوے دے چې د اِنسان پۀ خپلو حواسو کښې د دې دواړو نه زیات بل یو څیز هم خوښ نۀ وي- حِبْرُالْاُمَّة (یعنې د اُمت د ټولو نه لوئې عالِم) حضرت عبدُ الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما چې کله نابینا شو نو دا شعر به یې وئیلو:

اِنْ يَّذْهِبِ اللّٰه مِنْ عَيْنَيَّ نُوْرَهُمَا فَفِيْ لِسَانِيْ وَقَلْبِيْ لِلْهُدٰى نُوْرٌ

ترجمه: که الله پاک زما د سترګو نُور واخستو نو څۀ وشو؟ زما پۀ ژبه او زړۀ کښې خو د هدایت نُور شته- (مرقاة المفاتیح، 28/4، تحت الحدیث: 1549)

## د سترګو نظر تلل د ناراضګۍ سبب نۀ دے

حضرت سیدنا اَبُو الحَسن علي بن خَلَف اِبنِ بطّال رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: پۀ دُنیا کښې د یو مسلمان نابینا کیدل د هغۀ نه د د الله پاک د نا راضه کیدو پۀ وجه نۀ دي بلکې د هغۀ سره الله پاک د خیر اِراده فرمائي- یا خو د هغه نه څۀ داسې بد څیز لرې کوي د کوم سبب چې د هغۀ سترګې جوړیدلې او پۀ اخرت کښې به ورته داسې عذاب میلاؤیدو چې پۀ هغې باندې به صبر نشو کیدے یا د هغۀ داسې مخکښیني ګناهونه ختموي چې د وجود د څۀ ډیرې اهمې حصې ضائع کیدل هُم پۀ دُنیا کښې د هغې بدله کیدے شي چې د قیامت پۀ ورځ هغه د ګناهونو نه پاک شي او د خپل رَبِّ کریم سره ملاقات اوکړي، یا بیا د دې مصیبت پۀ ذریعه هغه د اَجر هُغه درجې ته رسیږي تر کومې پورې چې هغه د خپلو اعمالو پۀ ذریعه نشو رسیدے- د نورو ډیرو مصیبتونو معامله هم داسې ده- نو څوک چې د سترګو پۀ نظر تللو یا د بل یو اندام د ضائع کیدو پۀ مصیبت کښې اخته کړے شو نو هغه له پکار دي چې هُغه مصیبت د صبر او شُکر او ثواب د اُمید سره قبول کړي او د الله پاک د طرف نه پۀ اخستے کیدونکي اِمتحان راضي شي ځکه چې د دغه مصیبت پۀ بدله کښې به هغۀ ته ډیره ښه او ډیره عظیمه بدله میلاؤیږي او هغه جَنَّت دے- (شرح صحیح بخاری لابن بطال، 9/377)

## د غیبو خبر

حضرت زَید بن اَرقم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ بیان کوي چې د الله خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما د تپوس د پاره تشریف راوړلو او ارشاد یې وفرمائیلو: پۀ دې مرض کښې څۀ تکلیف ضرور شته خو دا به تا له نقصان نۀ درکوي، خو هُغه وخت به ستا څۀ حال وي کله چې زما د دُنیا نه د پرده فرمائیلو نه پس تۀ عمر

بیاموميې او ستا بینائي لا ړه شي ؟ ما عرض اوکړو: د ثواب پهٔ اُمید به زهٔ د صبر نه کار اخلم- اِرشاد يـې وفرمائیلو: ”بیا خو به تهٔ بې حسابه جَنَّت ته داخِل شې-“ نو د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وصال فرمائیلو نه پس حضرت سیِّدُنا زین بن اَرقم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نابینا شو- (معجم کبیر، 211/5، حدیث:5126 ملتقطاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې د اللّٰه پاک خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل پروردګار پهٔ عطا سره د خپلو غلامانو د عمرونو نه هم خبر دے او د هغوئي سره چې به څهٔ کیږي د هغې نه هم خبر دے- د قرآنِ پاک د بے شمیره آیتونو مبارکو نه د مدینے منورې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلمِ غیب ثبوت میلاؤیږي- دلته صرف یو آیت مبارک وړاندې کولے شي، د 30 سیپارې، د سورۃُ التَّکوِیر پهٔ آیت نمبر 24 کښې اللّٰه پاک اِرشاد فرمائي:

﴿ وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ ﴿٢٤﴾ ﴾ **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او دا نبي پهٔ غیب ښودلو باندې هیڅکله بخیل نهٔ دے-

*سرِ عرش پر ہے تِری گُزر دلِ فرش پر ہے تِری نظر*
*مَلکوت و مُلک میں کوئی شے نہیں وہ جو تجھ پہ عِیاں نہیں*

(حدائقِ بخشش، ص109)

## ﴿11﴾ د حج او د عمرې پهٔ سفر کښې د وفات کیدو فضیلت

د ټولو مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت بي بي عائِشه صِدّیقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا بیان کوي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا اِرشاد اوریدلے دے: څوک چې د حج یا عمرې د پاره ووتو او پهٔ لا ره کښې وفات شو نو د هغهٔ پیشي به نهٔ کیږي او نهٔ به ورسره حساب کیږي او هغهٔ ته به فرمائیلے کیږي: جَنَّت ته داخِل شه-

(معجم اوسط، 111/4، حدیث:5388)

طیبہ میں مر کے ٹھنڈے چلے جاؤ آنکھیں بند　　سیدھی سڑک یہ شہرِ شفاعت نگر کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص222)

## ﴿12﴾ د قَناعت کوونکي اِنعام

رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: د حساب کتاب د سخت والي سره به هغه وړے ګس نه مخ کیږي چا چې د اجر او د ثواب په اُمید لوږه برداشت کړې وي- (تاریخ مدینه دمشق، 278/6)

قلیل روزی پہ دو قَناعت　　فُضُول گوئی سے دیدو نفرت
دُرُود پڑھتا رہوں بکثرت　　نبیِ رَحمت شَفیعِ اُمّت

(وسائلِ بخشش، ص208)

## ﴿د 13 نه 15 پورې﴾ طالب علم، فرمانبرداره ښځه او اولاد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! عِلمِ دِین حاصلول په هر مسلمان باندې د خپل حال او وَس مطابق لازم دي او نیکه فرمانبرداره ښځه د الله پاک د طرف نه عظیمه تحفه ده او د مور او پلار سره د ښۀ سلوک کوونکي اولاد هم خومره شان دے، په حدیثِ پاک کښې دي: طالبِ عِلم، فرمانبرداره ښځه او د مور پلار سره ښۀ سلوک کوونکے اولاد به د انبیاؤ عَلَیهِمُ السَّلام سره جَنَّت ته بې حسابه داخلیږي-

(کنز العمال، جز: 9، 69/5، حدیث: 28824)

## ﴿16﴾ د مسلمان د حاجت پوره کولو فضیلت

د الله پاک خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوک چې د خپل مسلمان ورور د ضرورت پوره کولو د پاره ځي، الله پاک د هغۀ د هر قدم په بدله 70 نیکۍ لیکي، که ضرورت پوره شي نو ضرورت پوره کوونکے ګس به د ګناهونو

نه داسې پاک شي لکه پۀ هٰغه ورځ چې څنګه پاک وو پۀ کومه ورځ چې د هغۀ مور هغه زیږولے وو او که د ضرورت پوره کولو پۀ وخت وفات شي نو بې حسابه به جَنَّت ته داخليږي- (مُسندِ اَبی یعلیٰ، 16/3، حدیث:2781)

مَچلا ہے کہ رحمت نے اُمید بندھائی ہے    کیا بات تِری مجرم کیا بات بَنائی ہے
(حدائقِ بخشش، ص192)

## ﴿17﴾ د اولاد د ښۀ تربيت کوونکي د پاره زيرے

د ټولو مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت بي بي عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا بیان کوي چې رَسُولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: چا چې د يو ماشوم پالنه اوکړه تر دې چې هغه "لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ" وئيل شروع کړي (يعني د توحيد او رسالت ګواهي ورکول شروع کړي) نو رَبِّ کريم به د هٰغه تربيت کوونکي سره حساب نۀ کوي- (معجم اوسط، 370/3، حدیث:4865)

**د حديث شرح!** د دې عمل پۀ صِله کښې به هغه بې حسابه جَنَّت ته وليږلے شي، د " حساب نۀ اخستو" نه دا مُراد هم کيدے شي چې د هغۀ حساب به اسان وي او پۀ سلامتيا باندې به ختميږي، نو پۀ حساب کښې د څۀ نقصان او مشقت نۀ کيدو پۀ وجه هغه د مبالغې پۀ توګه " د بې حسابه" پۀ لفظونو سره بيان کړے شو- (فيض القدير، 174/1، تحت الحدیث:8696)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د اولاد صحيح تربيت کول د مور او پلار ذمه واري ده، عام طور ليدلے کيږي چې مور او پلار د بچو د تربيت صحيح حق نۀ ادا کوي او پۀ ماشومتوب کښې ورته د ښۀ او بد تميز نۀ ښائي، کله چې هٰغه

اولاد لوئي شي نو داسې مور او پلار د خپل اولاد د نافرمانۍ په فريادونو کولو په نظر راځي- مور پلار له پکار دي چې هُم په ماشومتوب کښې د خپل اولاد تربيت د شريعت او د سُنَّتو مطابق اوکړي- په ماشوم کنړلو هغه داسې بې سَره نۀ پريږدي او نۀ په دې وئيلو د هغوئي په تربيت کښې څۀ کمے راولي چې دا خو لا ماشوم دے چې کله لوئي چې نو ئخپله به هوښيار شي- څوک چې د خپل اولاد تربيت ته پوره توجه نۀ کوي، د هغوئي نه د دُنيائي تعليم په باره کښې خو پوښتنه کوي خو که اولاد نـمونځ کوي او که نۀ کوي د دې بالکل پروا نۀ کوي نو هم دوئي بيا وروستو افسوس کوي- ياد ساتئ چې د اولاد تربيت صرف د دې څيز نوم نۀ دے چې په هغوئي باندې دُنيائي تعليم اوکړې او د هغوئي د پاره د خوراک څښاک وغيره انتظام اوکړې بلکې د هغوئي د اللّٰه پاک او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمانبرداره جوړولو کوشش کول هم د مور او پلار په ذمه وارو کښې شامل دي-

## د اولاد په باره کښې به پوښتنه کيږي

حضرت عبدُ اللّٰه بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُما يو کَس ته وفرمائيل: د خپل بچي ښۀ تربيت اوکړه ځکه چې ستا نه به ستا د اولاد په باره کښې پوښتنه کيږي چې تا د هغۀ څنګه تربيت اوکړو او تا هغۀ ته څۀ وښودل؟ (شعب الايمان، 400/6، حديث:8662 ملخصاً)


يارب بچالے تو مجھے نارِ جَحِيم سے
اولاد پر بھی بلکہ جہنم حرام ہو
(وسائل بخشش، ص310)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ على مُحَمَّد

## دا رساله د لوستلو نه پس د ثواب په نيت باندې چا له ورکړئ

د غم ښادۍ په دستورو، اجتماعاتو، عُرسونو، د ميلاد په جلوسونو وغيره کښې د مکتبة المدينه چاپ کړے شوې رسالې او د مَدَني ګولونو پمفلټس تقسيم کړئ او ثواب وګټئ، ګاهک ته د ثواب په نيت په تحفه کښې د ورکولو د پاره په خپلو دکانونو کښې د رسالو کيښودو معمول جوړ کړئ، د اخبار خرڅوونکو په ذريعه د خپلې محلې کور کور ته د مياشتې کم از کم يوه د سُنَّتو نه ډکه رساله يا د مَدَني ګلونو پمفلټ ورکړئ او د نيکۍ دعوت عام کړئ او ښه ډير ثواب وګټئ-

د راروانې هفتې رساله





فیضان مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي.

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net